بسم الله الرحمن الرحيم

# له سود خوړونکي کارمشر څخه د معاش اخیستلو حکم

**(ژباړه)**

**پوښتنه**

السلام‌علیکم‌ورحمت‌الله‌وبرکاته!

د یو ورور پوښتنې زه له ستونزو سره مخ کړم او ما دا غوره وبلله چې هغه دلته مطرح کړم. که څه هم هڅه مې وکړه چې هغه ته یې واضحه کړم، خو هغه قناعت ونه کړ.

پوښتنه د عمومي دندې په اړه ده چې د پانګوالۍ په نظام کې ترسره کېږي، هغه نظام چې ډېره برخه او یا یې لږ اقتصاد د سود پر بنسټ دی؛ د دې مسلې په درک سره هغه دولتونه چې د دندې په مقابل کې معاش ورکوي، دغه مال او یا د هغه یوه برخه د اجنبي دولتونو له سودي پورونو او یا د پیسو د نړیوال صندوق له لوري ورکول کېږي.

پوښتنه دا ده چې ایا موږ مامورینو د دندې په مقابل کې سودي پیسې تر لاسه کړې؟ که ځواب هو وي، نو له دې پدیدې څخه د خلاصون لاره څه ده او ایا بې دندې ژوند ته دوام ورکولی شو؟

تر هر څه وړاندې له تاسو نه مننه او الله سبحانه وتعالی دې د دغو ځوابونو په مقابل کې خیر درکړي. ستاسو ورور عمار له تونس څخه.

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

د هغه معاش په اړه چې یو مامور او یا یې کارمند د دندې په مقابل کې تر لاسه کوي، حکم یې په هغه کار پورې اړه لري چې هغه یې ترسره کوي. که یو تن حرام کار ترسره کوي، د بېلګې په توګه: دا شخص په مخابراتو او یا داسې ځای کې دنده ترسره کوي چې هغه اداره د مسلمانانو او دعوت کوونکو د ځورولو لپاره فعالیت کوي، په دغه کار کې یې معاش حرام دی. ځکه دغه کس له حرام عمل څخه معاش تر لاسه کوي.

په هغه صورت کې چې د کارمند کار مباح وي، د بېلګې په توګه: یو شخص د ښوونکي، انجینیر او یا ډاکتر په توګه په دولتي ادارو او روغتونونو کې کار کوي، په داسې کارونو کې مامور ته معاش اخیستل جایز دي. په دې برخه کې که مال سودي وي یا غیر سودي، جایز وي او یا غیر جایز د کارمند د معاش په اړه کومه ستونزه نه رامنځته کوي. که چېرته کارمند د دغه ګډ کار له لارې معاش تر لاسه کړي، یعنې حلال او حرام، جایز دي. باید یادونه وشي چې دلته باید د کار حکم ته وکتل شي، که یو کارمند د غلا، غصب او یا له بلې حرام لارې معاش تر لاسه کوي، چې هغه په ذات کې حرامه وي، لکه شراب، د خنځیر غوښه او ورته نور حرام شیزونه چې په ذات کې حرام دي، په دغه صورت کې بیا معاش اخیستل حرام دي.

**حرام مال په څو ډوله دی:**

حرام باالذات: لکه شراب. د داسې حرامو نه ډالۍ روا ده، نه اجرت او نه پېر او پلور. د شرابو کاروبار او څوک چې هغه پېري او پلوري، دا حرام دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«حُرِّمَتِ الْخَمْرُ بِعَيْنِهَا»**

***ژباړه:*** *د شرابو ذات حرام دی.*

نسایي دغه حدیث روایت کړی دی.

بل ډول يې داسې حرام دي چې د بل تن د حق په دليل حرام شوي دي. د بېلګې په توګه؛ د غلا او مغصوبه مالونه. دا ډول مال غله او غاصب ته يې حرام دی، نو ډالۍ او اجرت يې هم جايز نه دی. دغه مال کاسب او هغه چاته حرام دی چې تر لاسه کوي يې، ځکه ياد مال يې د څښتن حق دی، هر ځای چې پيدا شي، بيرته يې څښتن ته ورکول کېږي. احمد له سمره څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إِذَا سُرِقَ مِنَ الرَّجُلِ مَتَاعٌ، أَوْ ضَاعَ لَهُ مَتَاعٌ، فَوَجَدَهُ بِيَدِ رَجُلٍ بِعَيْنِهِ، فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ، وَيَرْجِعُ الْمُشْتَرِي عَلَى الْبَائِعِ بِالثَّمَنِ»**

*ژباړه: کله چې د يو کس څخه مال غلا شو، يا يې مال ضايع شو، وروسته همغه مال له بل کس سره پيدا شو، نو په دغه صورت کې هغه مال خپل اصلي څښتن ته ورکول کېږي. د پيسو او بيې څښتن بايد هغه له اصلي پلورونکي څخه واخلي.*

دغه حديث ښکاره نص دی چې غلا شوی مال بايد بيرته خپل اصلي څښتن ته ورکړل شي. په همدغه ترتيب، مغصوبه مال بايد له غاصب څخه واخيستل شي او څښتن ته يې ورکړل شي. څنګه چې له سمره څخه روايت شوی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«عَلَى اليَدِ مَا أَخَذَتْ حَتَّى تُؤَدِّيَ»**

***ژباړه:*** *چاچې يو څه اخيستي وي، بايد بيرته يې ادا کړي.*

بل ډول حرام مال هغه دی چې د باطلې معاملې په دليل حرامېږي. د بېلګې په توګه: سود او قمار. کله چې له کوم کس سره له سود او حلالو څخه ګډ مال وو، د هغه مال سودي برخه کاسب ته حرامه ده؛ خو که کوم کس په حلاله طريقه دغه مال تر لاسه کړي، هغه ته نه حرامېږي. د بېلګې په توګه: که کوم سود خوړونکی مال وپلوري او بيا يې بيه واخلي، يا دا چې يوه مېرمن خپله نفقه له سود خوړونکي څخه واخلي، همدارنګه که سود خوړونکی خپل مال خپلو خپلوانو ته ورکړي او يا بل ډول معاملات ترسره کړي؛ په دغه صورت کې ګنهګار سود خوړونکی کس دی. د بيې اخيستونکی، هغه مېرمن چې نفقه اخلي او يا کوم کس مال د ډالۍ په توګه تر لاسه کوي، هغه ته ګناه نشته.

ځکه په دغه صورت کې هغه کسان نه ګنهګارېږي چې یاد توکي تر لاسه کوي. په دې اړه څو دلیلونو ته اشاره کوو:

الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴾**

(انعام: ۱٦۴)

*ژباړه: د هر کار ترسره کوونکی د خپل کړي عمل مسول دی. د ګنهګار کس ګناهونه پر نورو نه اچول کېږي.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه کې له یهودو سره معامله کوله، په داسې حال کې چې پر دې پوهېده چې د یهودو ډېری مالونه له سود څخه تر لاسه کېږي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيراً* وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ﴾** (نساء: 160)

***ژباړه:** د هغه ظلم پر اساس چې یهود یا ن یې مرتکب شوي، د الله سبحانه وتعالی له دین څخه د ډېرو خلکو د منع کېدو له امله، د سود خوړو په دلیل، چې هغه منع شوی و او د ډېرو خلکو مالونه یې په باطله توګه خوړلي دي، هغه څیزونه چې پاک او حلال وو، هغوی ته حرام شوي دي.*

یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم د یهودیانو هدیه منله، څنګه چې احمد او هغه له ابن عباس څخه روایت کړی چې یوې یهودۍ مېرمنې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو پسه ورکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه پسه هغې مېرمنې ته بیرته ورولېږه او ویې فرمایل:

**«مَا حَمَلَكِ عَلَى مَا صَنَعْتِ؟»**

***ژباړه:** کومه څه د دې لامل شوي چې دا کار دې ترسره کړ؟*

مېرمنې يې وويل، پر دې پوهېدل غواړم چې که ته نبي وې، الله سبحانه وتعالی به تا پوه کړي او که نبي نه وې، خلک له تانه راحت کړم.

له ځينو اصحابو او تابيعنو څخه په صحيح روايت سره روايت شوی چې هغوی له سود خوړونکي کس څخه ډالۍ اخيستلو ته اجازه ورکړې ده.

۱. ابن مسعود ته يو تن راغی او ورته ويې ويل: زه داسې ګاونډی لرم چې سود خوري او هغه تل ماته بلنه راکوي، ابن مسعود وويل: «هديه ستا ده او ګنهګار همغه سړی دی.» دغه روايت عبدالرزاق صنعاني په خپل مصنف کې روايت کړی دی.

۲. له حسن څخه پوښتنه وشوه، ايا د هغه صراف ډوډۍ چې سودي او مخلوط معاملات ترسره کوي، وخوړل شي؟ ويې ويل: «**قَدْ أَخبرَكُمُ اللَّهُ عَنِ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى، إِنَّهُمْ يَأْكُلُونَ الرِّبَا، وَأَحَلَّ لَكُمْ طَعَامَهُمْ**» الله سبحانه وتعالی تاسو خبر کړي ياست چې يهود او نصارا سود خوري، خو الله سبحانه وتعالی د هغوی ډوډۍ تاسو ته حلاله کړې ده. دغه روايت عبدالرزاق صنعاني پخپل مصنف کې له معمر څخه روايت کړی دی.

۳. له منصور څخه روايت شوی چې ويلي يې دي: ابراهيم ته مې وويل، يو تن ته د کار لپاره ورغلم، ويې منلم او د کار اجازه يې راکړه، ويې ويل: ويې منه، ورته ومې ويل، د سود څښتن دی، بيرته يې راته وويل: «**اقْبَلْ مَا لَمْ تَأْمُرْهُ أَوْ تُعِنْه**» **يعنې:** ويې منه، ځکه له هغه سره دې مرسته نه ده کړې او امر دې نه دی ورته کړی. دغه روايت عبدالرزاق صنعاني پخپل مصنف کې له معمر څخه روايت کړی دی.

د پورتنيو دليلونو پر اساس، غوره دا ده چې له سود اخيستونکي او سود خوړونکي کس سره معامله ونه شي، د هغه لپاره مال ونه پلورل شي او ډالۍ يې ونه منل شي؛ چې په همدغه ترتيب پلورونکی د خپل مال په مقابل کې په سود ککړې پيسې تر لاسه نه کړي. همدارنګه هديه يې وانه خيستل شي، که هغه له سودي مال څخه وي. په همدغه ترتيب، مسلمانان له هر ډول چټلۍ او ناپاکۍ څخه لېرې پاتې کېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم له ډېرو مباحاتو څخه ځان لېرې ساته، څو له حرامو لېرې پاتې شي. له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت دی چې هغه وويل:

**«لَا يَبْلُغُ العَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ المُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَراً لِمَا بِهِ البَأْسُ»**

***ژباړه:*** *یو بند تر هغه متقي نه بلل کېږي، څو د احتیاط له امله د ځینو مباحو له ترسره کولو ډډه وکړي.*

دغه حدیث ترمذي روایت کړی او یلي يې دي چې حسن دی.

لنډه دا چې د یو کس لپاره جایزه ده چې له مخلوط او سودي مال څخه پېر، پلور و کړي او هدیه يې ومني. همدارنگه جایزه ده چې یو تن له سود خوړونکي کس څخه معاش تر لاسه کړي؛ خو غوره دا ده چې له سود خوړونکي کس سره پېر او پلور ونه شي او هدیه يې وانه خیستله شي. همدانگه کار ورسره ونه شي او معاش يې وانه خیستل شي. پر همدغه اساس، هغه کسان چې په عمومي دندو کې کار کوي، له حرج پرته د معاش اخیستل ورته روا دي او په دغه صورت کې کار کوونکی نه گنهکارېږي؛ بلکې گناه د کار د څښتن وي. هیله مند یم چې دغه ځواب همدومره بسنه وکړي. الله سبحانه وتعالی تر ټولو ښه پوهېدونکی، عالم او پخپل کار کې حکمت لرونکی دی.

**ستاسو ورور عطاءبن خلیل ابوالرشته**

**ژباړن: بهیر «ویاړ»**